AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

مسؤولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لیوال

۲۰۲۱/۰۴/۱۹

# قاتله شتمني او روستۍ ازموېينه

د نړۍ په کچ لویه لوبه The Great Game یوه ناڅرګنده کړۍ پرمخ وړي. همدوی د نړۍ د امپرېال ستراتیژۍتګلوري هم ټاکي .

افغانستان د دغې کړۍ لپاره مهم دی، بیخی مهم. نه یې د خلکو لپاره، نه یې د دین لپاره او نه یې هم د کافرولو یا مسلمانولو لپاره .

افغانستان د دوی لپاره د زمکلاندي (زېرزمیني) طبیعي سرچینو لپاره، د بډایو کانونو لپاره، د روانو خوړو اوبو لپاره، د خپل ستراتیژیک موقعیت لپاره .

د امپرېال ستراتیژۍ دغې مدیره ډلې د افغانستان ملت د راپرځولو او دغو شتمنیو وړیا یا ارزانه لوټ تالان لپاره بیخی ډېره ستوماني وګاللـــه. دسیسې یې جوړې کړې، پنځوس کاله یې جګړه په کې وغځوله، ګاونډي یې ورته روي سپي کړل. هڅه یې وکړه، نیم کافر کړي، نیم مسلمان، څه په دې قوم وویشي، څه په هاغه، څه په دې ژبه و سیمه و مذهب او څه په هاغه ...

ډېره هڅه یې وکړه، چې د ولس په روسته پاتي تفکر، ټیټ شعور، د ځینو په جهالت او سادګۍ کې پانګونه وکړي، سره یې وجنګول، ستړي یې کړل، ویې کړول، میلیونونه یې یو په بل ووژل، وزګار، بېوزله او نالوستي یې کړل، خو ملا یې ورماته نه شوه کړای. دا ملت زخمي ـ زخمي، ټوکر ـ ټوکر لاهم ولاړ دی او له زخمونو یې وینې څاخي .

امپرېال ستراتیژیکه ډله ستومانه ده، بیخي ستومانه. ډېره هم لړي. افغانستان چې اوس په کوم حالت کې دی، دا یې روستۍ ازموېینه ده .

که دا ځل ملت ودرېد او په ملي روحیه یې د خپل هېواد، شتمنۍ، ملي حاکمیت، نظام، اساسي قانون، بیرغ او نظام وساته، نو تر شا یې د یوه روښانه سباوون ورانګې له ورایه ښکاري .

زه درته په ضمانت وایم، چې همدا مو د پاتي کېدو یا خدای مکړه ماتېدو روستۍ ازموېینه ده. که ودرېدو، دا ځل امپرېال ځواک د افغانستان له خلکو سره سیال تعامل ته مجبورېږي. ښایي د سویس په شان، چې د اروپا په زړه کې یې د نه لاسوهني نړیوال خوندیتوب ومنل شو، همداسې د افغانستان بدې ورځې هم پای ته ورسېږي. بل ګام به د افغانستان د یوه مقتدر او پیاوړي نظام او متخصصو ملي بنسټونو په مټ د ملي سرچینو د استخراج، پروسس او د افغانستان د ودانۍ او پرمختګ په کټه یې د کاروني لپاره لار هوارېږي .

بس دا ځل ودرېږئ، سره یو اوسئ، په پیاوړي ملي روحیه راوخوځېږئ. نظام وساتئ، اصلاح یې هروخت ممکنه ده، که مو وساته اصلاح کولای یې هم شئ .

نور جزیات رانه مه غواړئ، دا مو د ملي مقاومت او لوړ شعور روستۍ ازمون وګڼئ او ودرېږئ! دا ثابته کړئ، چې یو واحد، پیاوړی او باشعوره ملت یاست !

**یاالله!**

**افغانیزم، ملتپالنه، ملي یووالی!**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولـئ